آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۶/۱۸

# «د عــالــم پــه دریــاب ډوبــه، د پــایــاب تــمــه ومکــړه»

## خوشال پوهنه

### اشعار

### ۱۵

خوشال خپل فلسفي افکار په یوه ځانګړی قالب کې نه دي بیان کړي. کله په غزل کې، کله په قصیده کې، کله د مثنوي په قالب کې، کله بیا په رباعیاتو، کې کله بیا په نورو شعري ډولونو کې.
که څوک د خوشال پر فلسفي افکارو باندې د څه لیکلو تابیا وکړي، نو ور ته ښایي چې د ده ټول منظوم آثار له نظره تیر کړي.
کله چې د پوهاند ډوکتور بهاالدین مجروح «ځانځاني ښامار» لولو، د هر مهم فصل یا سرلیک په پیل کې یې د خوشال یو یا څو بیتونه را اخیستي دي. د دې بیتونو انتخاب د مجروح له هر سر لیک سره اړخ لګوي او دا ښیي چې مجروح څومره په ژوره توګه خوشال لوستی و.
پام وکړئ دې بیت ته چې مجروح صاحب د خوشال له یوې قصیدې نه را خوښ کړی دی او د «ځانځاني ښامار» د «دویم پړاو، دمه ځای چې په کې ځای د دمې نه و»(مجروح پوهاند ډوکتور، ځانځاني ښامار، خپرونکی: د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، ۱۳۵۶ کال، ۳۶ ام مخ) د سرلیک په پیل کې یې ایښی دی:

**د عــالــم پــه دریــاب ډوبــه، د پــایــاب تــمــه ومکــړه**
**دا پایاب دی ډیــرو غوښتی، خبــر نــه شول له ساحله**

د «ځانځاني ښامار» په متن کې لیدل کیږي چې د خوشال هغه بیتونه چې استاد مجروح د خپلو مطالبو د بیان له پاره را انتخاب کړي دي، کله د ده په غزلیاتو کې وي، کله په قصایدو کې او کله بیا په کوم بل شعري ژانر کې. د خوشال پوهنې په دې برخه کې د خوشال هغه ټوله قصیده را اخلم چې پاسنی بیت مجروح صاحب ور نه را اخیستی دی:

**همــراهــانــو دي کــوچ وکــړ، واړه لاړل تر منـزلــه**
**تــه لا کلــک پــه خــوب اوده یـــې، اې زمــا دلــه غافلــه**

**لــه نیستــیـه و هستی تــه، لــه هستیه و نـیستی تــه**
**کـــاروانـــونـــه دي چــلــیږي، قــوافــلــه ـ قــوافلــه**

**لاړ مې واړه ګُل و لای ده، ته پــر سهل تیتو سپور یې**
**ښه سـواران دي پـه کـې تللي، واوره تـښتـه لـه دې کلـه**

**د عــالــم پــه دریــاب ډوبــه، د پــایــاب تــمــه ومکــړه**
**دا پایاب دی ډیــرو غوښتی، خبــر نــه شول له ساحلــه**

**و کنــار تــه بــه و نه وځي لــه دې هسې شان دریــابــه**
**پــه ساحــل یې خبــر نـه دي، بــې لــه اهلي سواحله**

**د دنیا حــاصل یــې واړه نــاکــامــي او رنــځــوري ده**
**کــه د چــا پــه کــې حاصل شي هم یې مه ګڼه حاصلــه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له قسمته به نه کم، نه به څه زيات په ډير کوشش شي
هم هغه به در رسيږي چې دې برخه اوايله

دنيا څو وبله اسپې، چې مقصود دی په دنيا کې
خو يو نغن يو شړيه، نوره واړه ده فاضله

په قضا يې رضا ور وړه، هر چې ستا په باب يې کړي
په هيڅ رنگ به دفع نه شي، په تعويذ په حمايله

خپلو لاسو خپلو پښو وته وگوره نظر وکړه
دا همه واړه د خدای په معرفت دي دلايله

هميشه وايې چې خدای مې پيژندلی په يکی دی
که دې خدای و پيژندلی، مينه مه کړه په باطله

بې له خدايه را ته وايه بل يو کوم دی چې پيدا کا
آدمي له تورو خاورو په دا شکل و شمايله

په خوردن او په خفتن کې له چارپای برابر مه شه
د عمل په کار و بار کې مه شه کم تر عوامله

د دنيا په کار و بار کې، پسو بې حده بيدار يې
د ښه دين په کار کې څه رنگه اوده يې سست کاهله

په خپل حُسن غره مه شه که په حُسن لکه گل شې
زمانه به دې څيره په يو څو ورځې کا زايله

په دولت کې په حشمت کې که سنجر شې يا طُغرل شې
يوه ښه راښکاره کړه له سنجره له طُغرله

د بدانو نه دې هيڅوک، د نيکۍ اميد و نه کا
د عسل خواږه به نه مومې له زهر له هلاهله

د هغه عالم خبره چې عمل په ده کې نه وي
په مثال لکه براق دی چې جدا ځي له عامله

غه عالم چې عمل نه لري په مثل لکه خر دی
باندې څو کتابه کښلي مشقت يې بې حاصله

چې گفتار کردار يې واړه موافق سره يو رنگ دی
هاله هر رنگه خبره اثر کاندي له قايله

په زيبا گفتار دې هيڅ تقصير و نه کړای خوشاله
که کردار دې هم زيبا وای چار به ولې وه مشکله

(د خوشال کليات، د زاهد مشواني اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ،۴۳۲ـ ۴۳۳ مخونه)

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ